په افغانستان کي د زدکړو تاريخ او ستونزي

مهترخان خواجه مير، ميرام، قونيه، ترکيه

ژباړن: سبحان احمد

سرچينه:Researchgate.net

خلاصه: په افغانستان کي د رسمي زدکړو مرکزونو له ۱۷۴۷ څخه تر ۱۸۷۵ کال پوري شتون نه درلود. د عصري زدکړو پيل په ۱۸۷۵ کال کي وسو، چي د جوړو سوو ښوونځيو شمېر يې تر ۱۹۱۹ پوري تر ځلورو نه پورته کېدی. شاه امان الله خان (۱۹۱۹-۱۹۲۹) لومړۍ زدکړي د ټولو لپاره جبري وګرځولې، او د لومړي ځل لپاره يې د نجونو لپاره د ښوونځيو پرانيستلو ترڅنګ يوشمېر ښځينه زده کوونکي ترکيې ته د زدکړو لپاره ولېږلې. يادي پيښي په افغانستان کي دده پرځېدو ته لاره هواره کړه. له ۱۹۲۹ څخه تر ۲۰۰۱ کال پوري د زدکړو په برخه کي، په ځانګړې توګه د ښځو د تعليم په وړاندي د ستونزو سره سره بيا هم زيات پرمختګونه ترسره سول. نن ورځ د تېر په پرتله زدکړي په ښه حال کي دي، خو بيا هم په دې برخه کي ځيني ستونزي شتون لري. زموږ د ليکني موخه داده ترڅو په لنډه توګه پر هغو مهمو پرمختګونو چي له څلورمي پېړۍ راپېښېخوا بيا تر ننه پوري رامنځ ته سوي دي او همدارنګه پر هغه ستونزو باندي چي په بېلابېلو وختونو کي يې د زدکړو مخه نيولې ده، لنډه رڼا واچوو. ياده ليکنه په ۱۷۴۷ کي د افغانستان له خپلواکۍ څخه نيولې بيا تر نن ورځي پوري د دولتي زدکړو مرکزونه تر څېړني لاندي نيسي. په افغانستان د تعليم مخينه د پېړيو پر اساس ترتيب سوې ده، او همدارنګه يې په هر عصر کي مثبت او منفي اړخونه په لنډه توګه تشريح سوي دي.

اساسي کلمې: افغانستان، زدکړې، د زدکړو تاريخ، ستونزي.

پيلامه:

په افغانستان کي د زدکړو تاريخ

افغانستان ته چي کله اسلام راورسېدی، په دې سيمه کي د زدکړو کومو رسمي مرکزونو شتون نه درلود. د هيواد شمال، سوېل، ختيځ او لويديځ د بېلابېلو سيمه ييزو واکمنانو له خوا چي ډول ډول عنعنات او ژبې يې درلودلې، اداره کېدل. تر اسلام دمخه دلته د اور پالني، بودايزم، هندويزم او نورو دينونو مذهبي زدکړو ځای نيولی وو. په اوومه پېړۍ کي د اسلام له خورېدو سره سم په داسي حال کي چي اسلام د نورو دينونو ځای ونيوی، اسلامي تعليم هم د مخکنيو مذهبي زدکړو ځايناستی سو. د بلخ، غزني، هرات او غور ښارونه چي نن ورځ د افغانستان په دننه کي پراته دي، د زدکړيزو مرکزونو په توګه راڅرګند سول، او د ضحاک بن مزاحم په ښوونځۍ کي ۳۰۰۰ شاګردانو شتون درلود. همدې ته په کتو په عباسي دوره کي يوازي په بلخ کي د ماشومانو ۴۰۰ مدرسو او ۹۰۰ ښوونځيو شتون درلود. د معلوماتو پر بنسټ د محمود غزنوي په زمانه تر ۵۰ زياتي مدرسې د حکومت او شاوخوا ۵۰ نوري مدرسې د خلکو له لوري ابادي سوې. تر اوومي هجري پېړۍ مخکي په هرات کي ۳۵۹ مدرسې او مذهبي تکيه خانې موجودي وې. د غوريانو

حکومت (۱۰۰۰-۱۲۲۵) هم زدکړو او پوهانو ته زیاته پاملرنه کوله. په یاده دوره کې زدکړې په مدرسو کې ترسره کېدلې او په غزني، بلخ، هرات او بخارا کې نوې مدرسې په کار ولوېدلې. په تیموري امپراتورۍ کې د مدرسو ترڅنګ مسجدونه هم اباد سول.

افغانستان ته د اسلام تر راتګ وروسته د ګڼورو عصري زدکړو په پام کې نیولو ترڅنګ پر دیني تعلیم باندې هم ټینګار کېدی. هغه اشخاص لکه ابونصر فارابي، ابن سینا او ابوریحان بیروني چې پخپله پوهه یې تعلیم ته نوی رنګ ورکړ، همدلته یې زدکړې لاسته راوړې وې.

په افغانستان کې د رسمي ښوونیزو مرکزونو وجود د هېواد له بنسټ اېښودلو (۱۷۴۷م) څخه تر ۱۸۷۵م کال پورې شتون نه درلود. افغان واکمن امیر شیر علي خان (۱۸۶۸–۱۸۷۸م) د لومړي ځل لپاره د افغانستان په تاریخ کې دوې رسمي ښوونځی جوړې کړلې، چې له دې سره یې د معاصرو زده‌کړو بنسټ یې کښېښود. له دغو ښوونځیو څخه یو هغه یې ملکي او بله پوځي وه. وریسې د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ (۱۹۰۱–۱۹۱۹م) پر مهال دوې نوري ښوونځي چې د نن ورځي له عصري ښوونیز نظام سره یې ورته والی درلود، هم فعالیت پیل کړ. له دغو ښوونځیو څخه یوه یې په ۱۹۰۳م کال کی تاسیس سوه او زده‌کړې یې یوازې د ۱۰ افغان او هندي ښوونکو په مټ پیل کړې. دغه ښوونځی د لیسه حبیبیه (حبیبیه عالي لېسه) په نوم ونومول سوه. دوهمه ښوونځۍ چې په ۱۹۰۹م کال کې جوړه سوه، مکتب حربیه نومېده. په داسې حال کې چې د عصري زده‌کړو بنسټ په ۱۸۷۵م کال کې کېښودل سو، خو تر ۱۹۱۹م کال پورې د جوړو شویو ښوونځیو شمېر له څلورو څخه پورته نه سو.

د زده‌کړو په برخه کې دریم او تر ټولو لوی پرمختګ له ۱۹۱۹م کال وروسته رامنځته سو. شاه امان الله خان (۱۹۱۹–۱۹۲۹م) لومړنۍ زده‌کړې د ټولو لپاره لازمي وګرځولې. په همدې دوره کې د لومړي ځل لپاره د معارف وزارت جوړ، د لیسو شمېر زیات، او د افغان ښوونکو ترڅنګ جرمني او فرانسوي ښوونکي هم د کابل په لیسو کې وګمارل سول. همدارنګه په یاده موده کې د لومړي ځل لپاره د ېلازمېني څخه دباندې هم ښوونځي پرانیستل سولې. د ابتدایي ښوونځیو شمېر ۳۲۲ ته ورسېدی. د معارف وزارت سلګونه زده‌کوونکي روسیې، ایټالیا، جرمني او ترکیې ته د زده‌کړې لپاره ولېږدول سول. په ۱۹۲۱م کال کې د نجونو لپاره ښوونځی پرانیستل سولې او یو شمېر نجونې د زده‌کړو لپاره ترکیې ته واستول سوې.

د ښځینه ښوونځیو پرانیستل او د نجونو بهر ته لېږل د دیني ملایانو له سخت غبرګون سره مخ سول، ځکه هغوی دا کار د شریعت خلاف ګاڼه. په ۱۹۲۳م کال کې ملایانو له امان الله خان څخه وغوښتل چې د نجونو ښوونځی وتړي، ځکه د دوی په اند ښځې باید یوازې د خپلو خپلوانو له خوا په کورونو کې زده‌کړه وکړي او دباندې زده‌کړه جواز نه ورته لري. امان الله خان سره له دې چې هڅه یې وکړه ترڅو عالمان قانع کړي او ورته وښایي چې په اسلام کې د ښځو د زده‌کړو د مخنیوي کوم حکم نسته، او د هند، مکې، مدینې، مصر، دمشق او بغداد بېلګې یې ورته وړاندې کړلې، خو یادې هڅې بې‌پایلې وې او له همدې امله نوموړي د لنډ وخت لپاره د نجونو ښوونځي وتړلې، خو وروسته یې بیا پرانیستلې. د نجونو د ښوونځیو پرانیستل او د نجونو بهر ته لېږل په اخر کې د دې لامل وګرځېدل ترڅو امان الله خان په ۱۹۲۹م کال کې له افغانستانه څخه جلاوطنه سي.

په ۱۹۲۹م کال کې حبیب الله کلکاني (چې نهه میاشتې یې حکومت وکړ) د نجونو ښوونځی وتړلې او هغه ښځینه زده‌کوونکي یې بېرته راوغوښتلې چې بهر ته استول سوي وې. نوموړي

همدارنګه هغه ښوونځی هم وتړل چې د جرمني، فرانسې او نورو بهرنیو هېوادونو له خوا پرانیستل سوې وه. د نادر شاه د واکمنۍ پر مهال (۱۹۲۹–۱۹۳۳م) د نجونو ښوونځی بېرته خلاصي او نوي ښوونځي هم ورته جوړي سولې. د لوړو زده‌کړو لومړنی بنسټ چي د کابل طبي پوهنځی وه چې په ۱۹۳۲م کال کې تاسیس سو. د دې پوهنځۍ بنسټ‌ایښودونکی ډاکټر رفقي کامل و چې له ترکیې څخه راغلی و، او په راتلونکي کال کي نور ترکي استادان هم د تدریس لپاره ورسره یو ځای سول. دغه پوهنځۍ او پنځه نوري پوهنځیاني د افغانستان د پوهنتونونو له جوړېدو مخکي تاسیس سولې.

د ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال (۱۹۳۳–۱۹۷۳م) د زده‌کړو او روزني پرمختګ په ورو توګه خو دوامداره پاته سو. په دې موده کې ګڼ شمېر زده‌کوونکي جرمني، فرانسې، امریکا، هند او نورو هېوادونو ته ولېږل سول او ډېري نوي ښوونځي جوړي سولې. په ۱۹۴۶م کال کي کابل پوهنتون د افغانستان د لومړي پوهنتون په توګه تاسیس سو، او وروسته نوري پوهنځیاني او پوهنتونونه هم پکار ولوېدل.

له ۱۹۷۹م کال را وروسته کله چي شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، بیا تر ۱۹۸۹م کال پوري د هغوی تر وتلو او په ۱۹۹۲م کال کي د کمونستي حکومت تر ړنګېدو پوري د زده‌کړو بهیر همداسي دوام درلود؛ خو یادي زده‌کړي تر ډېري پوري یوازي په هغو ښارونو پوري محدودي وې چي د مرکزي حکومت تر واک لاندې وه. په هغو سیمو کي چې د مرکزي حکومت تر واک لاندې نه وې، رسمي زده‌کړو شتون نه درلود. شاوخوا پنځه میلیونه افغان کډوالو په پاکستان او ایران کي، او ددې ترڅنګ د مرکزي حکومت مخالفینو ځیني ښوونځی جوړي کړلې او هڅه یې وکړه چي خپلي زده‌کړې دوامداره وساتي. په پاکستان کي میشتو کډوالو د ښوونځیو ترڅنګ ځیني پوهنتونونه هم جوړ کړل.

د طالبانو د واکمنۍ پر مهال (۱۹۹۶–۲۰۰۱م) د ښځو زده‌کړي بندي سوې او د نجونو ټولي ښوونځي، پرته له کابل طبي پوهنځۍ څخه وتړل سولې. دغه پوهنځۍ ځکه پرانیستۍ پاته سوه چي ښځینه ناروغاني یوازي د ښځینه ډاکترانو له خوا معاینه کېدای سوای. طالبانو له همدې امله ښځو ته د ډاکټرانو او نرسانو په توګه د کار اجازه ورکړې وه، خو په نورو ټولو برخو کي یې د ښځو کار منع کړی و. په دې موده کي د دیني مدرسو شمېر زیات سو او لوی شمېر ښوونځي په مدرسو بدلي سولې.

په ۲۰۰۱م کال کي د طالبانو رژیم د زده‌کړې قانون صادر کړ او د دې قانون په دویمه ماده کي یې یادونه وکړه چي زده‌کړه د ټولو افغانانو مساوي حق دی. همدارنګه په دریيمه ماده کي راغلي وه چي د ښځو زده‌کړي به د شریعت له مخي د یوه ځانګړي قانون له لارې تنظیمېږي، خو دغه ځانګړی قانون هیڅکله بیا صادر نه سو.

د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال (۲۰۰۱–۲۰۱۴م) د افغانستان د معارف وزارت د ۲۰۱۲م کال د راپور له مخې، ۱۰.۵ میلیونه زده‌کوونکو په ۱۶٬۶۰۰ ښوونځیو او روزنیزو مرکزونو کي زده‌کړي کولې چي ۳۸ سلنه یې نجوني وې. همدارنګه ۷۷۰٬۰۰۰ ځوانان په ۳۰٬۰۰۰ سواد زده‌کړي کورسونو کې شامل وه چي ۶۲ سلنه یې ښځي وې. نن ورځ په افغانستان کي شاوخوا ۳۰ دولتي پوهنتونونه او شاوخوا ۱۰۰ خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده‌کړو مؤسسې شتون لري.